د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

تحلیل هفته

ګڼه: 400

(19 لیندۍ – 25 لیندۍ 1401 هـ ش)

# د افغانستان د اوسني بانکي سکټور څېړنه او د راتلونکي وړاندوینه




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

د افغانستان د اوسني بانکي سکتور څېړنه او د راتلونکي وړاندوینه ........................................ 3
- سریزه................................................................................................3
- د 2021 م کال له سیاسی بدلون څخه مخکی بانکی سکتور ......................................4
- د 2021م کال له سیاسي بدلون څخه وروسته تر اوسه پورې د بانکي سکتور حالت: ....................5
- د بانکي سکتور راتلونکی.......................................................................8
- وړاندیزونه ......................................................................................8
- پایله: ...............................................................................................9
- سرچینی: ........................................................................................ 10

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د افغانستان د اوسني بانکي سکټور څېړنه او د راتلونکي وړاندوینه

## سریزه

د جمهوریت سقوط، د افغانستان د لوی سیاسي تحول په توګه د هېواد لپاره ډېرې پایلې له ځان سره لرلې چې هېڅوک ترې بې زیانه پاتې نه شول. په دې ترڅ کې یو له ډګرونو څخه چې ډېر زیانمن شوی هغه اقتصادي نظام دی. لکه څنګه چې په ناڅاپي توګه په ملیاردونو ډالره بهرنۍ مرستې قطع شوې، له امله یې په زرګونو پرمختیایي پروژې وځنډېدې او یا فسخه شوې. چې په پایله کې یې په سلګونو زره خکلو خپل کار له لاسه ورکړ او په هېواد کې د عوایدو او سپماوو د راټیټېدو سبب شو. له بل لوري څخه د ډالرو کموالی چې په تېرو دوو لسیزو کې د افغانیو پشتیوانه ګڼل کېدله، لا هم زیات شو او په پایله کې د ۲۰۲۱م کال تر پایه پورې د افغانیو نرخ مخ په ښکته روان و او له هغه سره سم د توکو نرخونه ورځ تر بلې مخ په لوړه روان و. خلکو د خپلو پیسو د را اېستلو لپاره په بانکونو هجوم وروړ، خو د دې لپاره چې بانکونو په لږ وخت کې د دومره پیسو دورکړې توان نه درلود، بانکي سکټور له سختو ستونزو سره مخامخ شو. په بانکي او اقتصادي سکټور باندې تعزیراتو او د نړیوالو له خوا د دولت په رسمیت نه پېژندلو، د دې ستونزو لمن لا نوره هم خوره کړه او په افغانستان کې د بېوزلۍ او د سلګونو زرو وګړو د مهاجرت سبب شو.

په دې ترڅ کې بانکي سکټور د هېواد د اقتصادي فعالیتونو د محرک په توګه، د اقتصادي بحران او بې باورۍ له امله سخت زیان ولید او د سقوط تر پولو ورسېد. تر داسې حده پورې، که د پیسو د قاچاقبرانو او محتکرینو پر وړاندې د سرپرست حکومت له لوري مبارزه نه وای شوې، او د مرکزي بانک له لوري د پیسو په ورکړه کې د څارنې هوښیارانه سیاست او محدودیت نه و وضع شوی؛ او پر وخت سره د ملګرو ملتونو د بشرپالنې مرستې نه وای را رسېدلې؛ په غالب ګمان چې د افغانستان اقتصادي او بانکي نظام له سقوط سره مخامخ کېده.

دغه شننه د ۲۰۲۱م کال له تحولاتو څخه دمخه د افغانستان د بانکي سکټور وضعیت ته لنډه کتنه او همدارنګه یې د اوسني حالت بیان دی چې د راتلونکي

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

احتمالي بهیر پلټنه او شننه یې هم کړې او په پای کې یې د هېواد د بانکونو د اوسني حالت د ښه کولو او ودې لپاره حل لارې وړاندې کړې دي.

## د 2021 م کال له سیاسی بدلون څخه مخکی بانکی سکتور

د افغانستان مرکزي بانک په 1318 هـ ل کال کې رامنځ ته شو. د بانکدارۍ صنعت د 2001 م کال څخه وروسته د خصوصي پانګونې له لارې د پام وړ وده او پرمختګ وکړ. هغه داسې چې په لسګونو بانکونو او د بهرنیو بانکونو نمایندګیو په هېواد کې په کار پیل وکړ. د افغانستان د بانکونو د ټولنې له لوري د ورکړل شوو ارقامو پر بنسټ د 2021م کال په دویمه ربع کې د درې دولتي بانکونو،اووو خصوصي بانکونو او دوو د خارجي بانکونو نمایندګیو په شمول ټول 12بانکونه په هېواد کې فعال وو. چې په ټوله کې دې بانکونو په ټول هېواد کې413 نمایندګۍ هم لرلې. د بانکي سکتور ټوله سرمایه تقریباً313,4ملیارده افغانۍ، د امانتونو اندازه تقریباً 259,3ملیارده افغانۍ وه. او د اجرا شوو اعتباراتو اندازه تقریبا 37,2 ملیارده افغانۍ وه. همدارنګه په ټوله کې د بانکي حسابونو شمېر د 2021م کال د دویمې ربعې په پای کې 4.603 ملیونه وو.

د دې سره سره په تېرو دوه لسیزو کې د بانکي سکتور فعالیتونه له ستونزو او سوالونو سره مل وو. د 2010م کال د سپتامبر په میاشت کې کابل بانك چې د افغانستان تر ټولو لوی او مشهور ترین خصوصي بانک و په داسې حال کې دیوالیه شو، چې د نومړي بانک ټول قرضونه تر 1179میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېدل چې د نورو عواملو ترڅنګ، د خارجیانو خصوصا امریکایانو لاسوهنه، د سیاسي اقتصادي مافیه کړیو دخالت، د خصوصي بانکونو ناسالم رقابت، جنګ او ناامني، د بانک ناسم اقتصادي سیاست، په غیر قانوني بڼه د برخه والو له خوا د میلیونونو ډالرو په ارزښت امانتونه و ایستل، او د مرکزي بانک له خوا په سمه توګه نه مدیریت؛ د کابل بانک د سقوط له عواملو څخه ګڼلی شو.

دغه موارد د بانکدارۍ د کمزوري فرهنګ سربېره، ناپایداره سیاسي او امنیتي وضعیت، په بانکي امورو کې سیاسي دخالت هغه ننګونې دي چې تل په هېواد کې د بانکدارۍ پر وړاندې شتون لري.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**د 2021م کال له سیاسي بدلون څخه وروسته تر اوسه پورې د بانکي سکتور حالت:**

د مخکنـــۍ بـــې ثبـــاتۍ او تزلـــزل پـــه څنـــګ کـــې چـــې د یـــاد شـــوي ســـیاسي بـــدلون لـــه املـــه د افغانســـتان د بـــانکولۍ صـــنعت لـــه بېلابېلـــو زاویـــو څخـــه زیـــانمن شـــوی چـــې دلتـــه پـــه لنډېز سره پرې رڼا خوروو.

د جمهوریـــت پـــر وخـــت افغانســـتان پـــه کـــال کـــې تقریبـــا 4 ملیـــارده امریکـــایي ډالـــر د نړیـــوالې ټـــولنې لـــه خـــوا مرســـته ترلاســـه کولـــه، او تقریبـــاً پـــه همـــدې انـــدازه مرســـته د بهرنیـــو بنسټونو له لوري په مصرف رسېدل.

د اســـلامي امـــارت د واک لـــه ترلاســـه کولـــو وروســـته یـــادې مرســـتې افغانســـتان سره بنـــدې شـــوې. دغـــه بنـــدې شـــوې مرســـتې چـــې ډېـــرې یـــې د هېـــواد د بـــانکونو لـــه خـــوا تـــرسره کېـــدلې د دې ســـبب شـــوې چـــې دهېـــواد بانکونـــه د نقـــدو پیســـو لـــه کمبـــورد سره مخـــامخ شي.

نړیـــوالې ټـــولنې لـــه افغانســـتان سره د مرســـتو پـــه بنـــدولو بســـنه و نـــه کـــړه او ورپســـې یـــې د افغانســـتان ۹,۵ میلیـــارده ډالـــره ارزي پانګـــه هـــم کنګـــل کـــړه. او پـــه یـــو ډول نـــه یـــو ډول د نړیوالـــو بـــانکونو لـــه لـــوري د محـــلي بـــانکونو پـــر وړانـــدې اقتصـــادي بندیزونـــه ولګـــول شـــول. دې کـــار لـــه یـــوې خـــوا د ټـــول هېـــواد اقتصـــاد تـــر ســـخت فشـــار لانـــدې را ووســـت او لـــه بلـــې خـــوا یـــې خپلـــو شـــتمنیو تـــه د دولتـــي او خصـــوصي بـــانکونو لاسرســـی او لـــه نـــورو نړیوالـــو مـــالي بنســـټونو سره یـــې د هغـــو تعامـــل هـــم بنـــد کـــړ چـــې دا موضـــوع هـــم د افغانســـتان بـــه بـــانکونو کـــې د نقـــدو پیسو د کموالي سبب شو.

نـــور مشـــکل چـــې بـــانکونو تـــه ورســـېد د هغـــو کســـانو لـــه خـــوا و چـــې د هېـــواد پـــه بـــانکونو کـــې یـــې امانتونـــه درلـــودل، د جمهوریـــت لـــه ســـقوط سره ســـم تقریبـــاً ټولـــو خلکـــو چـــې پـــه بـــانکونو کـــې یـــې پیســـې درلـــودې لـــه دې وېـــرې چـــې مبـــادا شـــتمني یـــې لـــه منځـــه لاړه نـــه شي پـــه یـــو واري ډول پـــه دې لټـــه کـــې شـــول چـــې خپلـــه ټولـــه شـــتمني لـــه بـــانکونو څخـــه وباسي. دا موضـــوع تـــر دې حـــده جـــدي وه او ده چـــې د افغانســـتان مرکـــزي بانـــک مجبـــوره شـــو چـــې د محـــدودیتونو سیاســـت مـــخ تـــه یـــوسي، او د پیســـو پـــه اخیســـتلو قیـــودات وضـــع کـــړي. د دې قیوداتـــو بـــا وجـــود هـــم مشـــتریان کوښـــښ کـــوي چـــې خپلـــې ټـــولې شـــتمنۍ لـــه بـــانکونو څخـــه وباسي. د مختلفـــو دلایلـــو پـــر بنســـټ د هغـــې لـــه جملـــې څخـــه وروســـتي ســـیاسي تحـــولات او پـــه بـــانکونو د اعـــتماد کمـــوالی د دې ســـبب شـــوی چـــې خلـــک نـــه حـــاضرېږي چـــې خپلـــې شـــتمنۍ پـــه بـــانکونو کـــې وســـاتي. دا موضـــوع هـــم پـــه بـــانکونو کـــې د نقـــدو پیســـو پـــه کمـــوالی

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

کې ور علاوه شوه. د دې ترڅنګ ملي بانکونو خپل اعتماد او اعتبار تر ډېره د نړیوالو بانکونو پر وړاندې له لاسه ورکړی دی. او داسې هم معلومېږي چې حتی که چېرې محدودیتونه لرې هم شي، نوموړي بانکونه ممکنه نه ده چې په اسانۍ سره حاضر او د افغانستان له بانکونو سره بانکي تعاملات ترسره کړي.

بانکونه د کمیشن، قرضونو، پانګوونې، اعتبار رامنځته کولو له لارې خپل لګښتونه او ګټه خوندي کوي. د نقدو پیسو کموالی چې پر بانکونو باندې د محدودیتونو او بې اعتبارۍ له امله را منځ ته شوی، او دا د دې سبب ګرځیدلی چې د افغانستان بانکونه خپلې عایداتي سرچینې تر یوه حده له لاسه ورکړي تر دې اندازې چې حتی په اوسنیو حالاتو کې نه شي کولای خپل لګښتونه وساتي، د ځینو بانکونو د څانګو د بندیدو یو علت په همدې موضوع دلالت کوي.

په تیرو دوو لسیزو کې د افغانستان بانکونو د پانګه والۍ د ټوکرۍ په برخه کې له پوره ځیرکتیا څخه کار وانخست او مسلکي کار یې ونه کړ. له یو لوري څخه یې خپله زیاته پانګونه له هېواده بهر ترسره کړې وه چې پر بانکونو باندې له محدودیتونو څخه وروسته یې هغو پانګو ته لاسرسی ناشونی شو او له بل اړخه یې په کورنۍ پانګونه کې ډېر کم راتلونکي ته کتل او هم یې د مختلفو سیاسي سناریوګانو احتمال په نظر کې نیولی و. د مثال په توګه د بانکونو له خوا په املاکو پانګونه، تجارت او قیمت لرونکو اسنادو ته دومره توجه شوې وه چې په مختلفو برخو کې لکه معادن او زراعت برخو کې د پانګونې زمینه موجوده وه ولې له نظره یې لرې پاتې وه. د املاکو قیمت، او کساد د بازار او هم د کور او اپارتمان نرخونو بانکونه له مشکل سره مخ کړي وو. دې موضوع هم بانکونه د نقدو پیسو له کمبود سره مخ کړل. که څه هم د افغانستان د بانکونو د اتحادیې د ارقامو او شمیرو پر بنسټ د2021م کال د دویمې ربعې تر پایه ښکاره کوي چې ټول ترسره شوي پورونه د بانکي سکتور له خوا 37.2 ملیارده افغانۍ وو. په شمول د2.99ملیارده، 4.1ملیارده، 2.96ملیارده، 14ملیارده، 10.3ملیارده افغانیو په ترتیب د ساختمان جوړولو، تولیدات او صنایع، ودانیزو پروژو، تجارت او خدمتونو سکټور پورې اړوند دي.

تر اوسه هېڅ کوم هېواد د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت نه دی پېژندلی، هم د سیاسي ستونزو له کبله دا د دې سبب ګرځیدلی دی چې افغانستان له نورو هېوادونو سره په اقتصادي راکړه ورکړه کې ازاد لاس ونه لري.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د هېواد د اقتصادي کړنو کموالی، د بانکونو د اقتصادي ستونزو د منځ ته راتلو سبب ګرځېدلی شی. دا چې په ډېرو ځایونو کې تجارتي معاملات په بانکونو کې د پیسو د انتقال له لارې ترسره کېږي، او له بل اړخه تجارتي معاملات له نورو هېوادونو سره د اقتصادي وضعیت د ښه کېدو سبب ګرځي. طبیعي ده چې په عادي حالاتو کې خلک خپله شتمني په بانکونو کې ساتي، چې دا خپله په بانکونو کې د نقدو پیسو د زیاتوالي سبب ګرځي.

د ذکر شوو ستونزو په نظر کې نیولو سره بدبختانه د افغانستان بانکونه اوس هم ښه حالات کې نه دي. که څه هم د مرکزي بانک او یا هم د بانکونو د اتحادیې له خوا کوم ارقام نه دي خپاره شوي، خو د بانکونو د حسابونو په ارزولو سره ویلی شو چې بانکونه په ښه وضعیت کې شتون نه لري. د ډېرو بانکونو امانتونه او شتمنی د کموالي پرمخ روانې دي، سره له دې چې نزولي خط یې د اسلامي امارت د لومړنیو شپږو میاشتو په نسبت لږ دی، خو بیا هم د اقتصادي ستونزو پر بنسټ، بانکونه له خپلو مشتریانو څخه د قرضونو په راټولولو او تصفیه کې ناتوانه دی. او لکه څرنګه چې ذکر شو د هغوی عواید د پخوا په نسبت ډېر کم شوي دي. د افغانستان اقتصاد خصوصا بانکي سکتور، د سازمان ملل د بشردوستانه مرستو د تزریق په واسطه، له بانکي سکټور څخه د دولت حمایتي پالیسیانی، د تعزیراتو کموالي او له سرپرست حکومت سره د مراوداتو د زیاتوالي پر اساس بانکي سکټور ورځ په ورځ پیاوړی کېږي. او د دې سکټور کړنې په عادي ډول مخ ته ځي.

د 40 ملیونه نقدي مرستو کڅوړه هره اونۍ افغانستان ته راځي، تر اوسه له 1.7ملیارده امریکایی ډالرو څخه زیاته مرسته له دې آدرسه د بانکونو له خوا د افغانستان اقتصادي څرخ ته وارد شوي ده.

دا د نقدي مرستو کڅوړه له یو اړخه د هېواد اقتصاد په ټوله کې او اقتصادي نظام په خاص ډول له سقوطه ژغوري. او له بل اړخه په نسبي ډول د افغانیو د ارزښت په کنترول کې رول لوبولی شي. او همدارنګه یې د افغانستان په اقتصادي کړنو کې کومک کړی دی.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د بانکي سکتور راتلونکی

د بانکي سکتور راتلونکی وضعیت د نړۍ اړیکې د اسلامي امارت په اړیکو پورې تړاو لري، په دې لړ کې کولای شو د درې سناریوګانو وړاندوینه وکړو:

که چېرې حالات داسې مخ ته ولاړل چې اوسنی حکومت په رسمیت وپېژندل شو او یا هم کم تر کمه د نړیوالو تعامل له افغانستان سره په ازاد ډول تر سره شو، په هغه صورت کې د بانکدارۍ وضعیت نور هم ښه کېږي. ځکه له یو اړخه په ټوله کې اقتصادي وضعیت ښه کېږي، دا چې دا په خپل وار په بانکي سکتور باندې مثبت تاثیر کوي، او له بل اړخه بانکونه له مرکزي بانک سره خپلو شتمنیو او سرمایو ته لاسرسی پیدا کوي، او هم په بانکونو باندې د خلکو اعتماد بیا را ژوندی کېږي.

که چېرې د حکومت وضعیت او د حکومت نړیوالې ټولنې تر منځ اړیکې په همدې شکل دوام ومومي، د افغانستان بانکونه به په نیم ځان خپلو کړنو ته دوام ورکړي ترڅو خپل مصارف تامین کړي.

په دریم حالت کې که چېرې د افغانستان اړیکې له دنیا سره په نامناسب حالت کې مخ ته ولاړې شي، نو په دې صورت کې ممکن له نړیوالې ټولنې سره یواځینۍ د فشار اله همدا اقتصادي فشار اوسي. هر قسم اقتصادي فشار به د افغانستان د بانکولۍ په صنعت باندې منفي تاثیر ولري او همدارنګه کېدای شي چې د بانکدارۍ صنعت نور هم ضعیف شي، او حتی تر دې چې کولای شي د افغانستان اقتصادي نظام سقوط کړي.

## وړاندیزونه

ټولــو یــادو شــوو موضــوعاتو تــه پــه پــاملرنې سره د افغانســتان د بــانکي ســتونزو د حــل په موخه لاندې حل لارې د وړاندیزونو په توګه تاسو ته وړاندې کېږي.

1. پــه اوســني وخــت کــې د افغانســتان د بــانکونو د تغــذیې تــر ټولــو مهــم سیســتم هغــه د ملــل متحــد ســازمان بشرــ دوســتانه نقــدي کــومکي کڅــوړې دي، نــو پــه دې بنســټ اســلامي امــارت بایــد د دې شــته مرســتو د دوام ترڅنــګ، د هغــې د زیاتوالي او نورو نوو سرچینو په لټه کې هم شي.
2. افغانســتان اوســنیو حــالاتو کــې پــه نړیــوالې انــزوا کــې قــرار لــري، لــه نــړۍ سره د افغانســتان اړیکــې لــه ښــه کېــدو سره ســم پــه ټولــه کــې د هېــواد اقتصــاد او پــه خــاص ډول د افغانســتان بانکونــه د خپــل مثبــت تــاثیر لانــدې نیسيــ. بنــاً دا یــو

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ضرورت دی چې اسلامي امارت باید په دې برخه کې د انعطاف او مناسبې دپلوماسۍ په نظر کې نیولو سره جدي کوښښونه وکړي.

3. حکومت باید عملي، دقیق، هر اړخیز او حقیقي پروګرامونه د خلکو پر وړاندې د بانکي اعتبار د بیا راژوندي کولو لپاره په لاره واچوي. او ذکر شوي فعالیتونه باید د ټولنې د امانت دارو او متخصصو انسانانو له لارې ورته د عمل جامه ور واغوندي. ګر چه د بانکي سیستم په اسلامي سیستم د بدلولو کوښښونه هم روان دي.

4. د خلکو اعتماد په دولت، د امنیت مکمل تامین، د لویو اقتصادي برنامو طرح او تطبیق، په داخلي او خارجي برخو کې د سرمایه ګزارۍ جلبول او دې ته ورته نور کارونه د هېواد اقتصادي څرخ د روانیدو سبب ګرځي. چې دا په خپل وار کې په افغانستان کې د بانکدارۍ په صنعت مثبت اثر کولای شي. ضرورت دی چې اسلامي امارت په پورتنیو ذکر شوو برخو کې مناسبې کړنې پر مخ بوځي.

5. هغه قرضونه چې وخت یې پوره وي اسلامي امارت باید د هغې په جمع کولو کې له بانکونو سره په جدي توګه همکاري وکړي، او د امکان په صورت کې په دې برخه کې په سختۍ چلند وکړي.

6. حکومت په جدي توګه باید کوښښ وکړي چې د بشري حقونو د ادارو له لارې د افغانستان له کنګل شوو ذخایرو څخه د افغانستان د غیر دولتي بانکونو پانګې را خلاصې کړي.

## پایله:

په اوسني وخت کې د سرمایې کموالی، د نقدو پیسو کموالی او د خلکو له خوا په بانکي سکتور باندې بې اعتباري د افغانستان د بانکدارۍ صنعت تر ټولو اساسي ستونزه ده. د افغانستان او نړۍ د هغې ډلې د امریکا اړیکې په ښه کېدو سره امکان لري چې د نقدو پیسو نه شتون ستونزه ښه شي، لیکن په بانکونو د خلکو د اعتبار موضوع په ساده ګۍ سره د ترمیم وړ نه ده، ممکن ډېر وخت ته اړتیا ولري. په دې کې شک نشته چې د نقدو پیسو کموالی په لنډ وخت کې د افغانستان د بانکونو لویه ستونزه کیدای شي، خو د وخت په تېرېدو سره هم د خلکو او هم د نورو مالي نهادونو اعتبار په بانکونو، په بانکونو کې د نقدو پیسو کموالی کموي. ځکه چې د بانکونو له خوا راکړه ورکړه د بانکي فعالیتونو څرخ په حرکت راولي.

خلاصــه دا چــې د افغانســتان بانکونــه لــه نړیــوال حمایــت څخــه پرتــه، د نقــدو پیســو او عوایــدو پــه زیــاتوالي او د بــانکونو د اعتبــار د بیــا راژونــدي کولــو کــې پــه برخــه کــې؛ د پــام وړ کــار نــه شي کــولی. بنــاء پــر دي اړینــه ده چــې د افغانســتان اســلامي امــارت د بــانکونو او نــورو اقتصــادي ســتونزو د حــل لپــاره لــه نړیــوالې ټــولنې سره د اړیکــو پــه پیاوړتیــا کــې د ســتونزو د بنیــادي حــل پــه توګــه ورتــه خپلــه ټولــه پاملرنــه ور واړوي او دې ســتونزې تــه د پــای ټکی کېږدي.

**سرچینې:**

- ۸ صبح. نگاه گذرا به وضعیت بانک‌ها. ۳۰ میزان ۱۴۰۰.
- رادیـــو آزادی. بـــاز شـــدن بانک‌هـــا در کابـــل؛ "محـــدودیت در توزیـــع پـــول مشترکین وضع شده است". ۷ سنبل ۱۴۰۰.
- انـــاتولی. بســـته ۴۰ ملیـــون دلاری کمک‌هـــای بشرـــ دوســـتانه بـــه کابـــل رسید. ۲۹,۱۱,۲۰۲۲.
- دویچـــه ولـــه. آینـــده بانک‌هـــای خصوصـــی در افغانســـتان چـــه می‌شـــود؟ ۷ جدی ۱۴۰۰.
- طلـــوع نیـــوز. مجاهـــد: نظـــام بـــانکی افغانســـتان ســـقوط نمی‌کنـــد، بـــرای آن راهکار داریم. ۳ قوس ۱۴۰۰.
- افغانســـتان انترنشـــنل. بانـــک مرکـــزی تحـــت کنـــترل طالبـــان: فعالیـــت‌هـــای بانکی در افغانستان به حالت عادی بازگشته است. ۹ عقرب ۱۴۰۱.
- وب سایت اتحادیه بانکی افغانستان
- وب سایت د افغانستان بانک

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بېپرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پالیسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: ‎+۹۳۷۸۶۰۰۹۶۹۹